# بسم الله الرحمن الرحيم

**د اسلام اقتصادي نظام:**

[من لایملک قوته لایملک قراره] څوک چې قدرت نه لري هغه د خپلې پریکړې واک نه لري.

همدارنګه: [لایملک الدینار یملک القراره] څوک چې دینار لري، هغه د پریکړې اختیار لري.

**د اقتصادي نظام تعریف:** اقتصاد له قصد څخه اخیستل شوی دی. قصد په لغت کې استقامت، بیانولو، اعتدال په مانا دی، په دې اړه یو مهم حدیث شریف دی، چې وایي: [رحم الله مرأ اکتب طیبا و انفق قصدا و قدم لیوم فقره و حاجته.]

ژباړه: الله تعالی د رحم وکړي په هغه کس باندې چې حلال رزق ګټي او مصرفوي یې په متعدله توګه، د فقر او اړتیا لپاره یوه اندازه ذخیره کوي.

په پورتني حدیث کې قصد د اعتدال په معنی دی.

خلک اقتصاد ادم سمیت ته راجع کوي چې هغه رامنځته کړی؛ خو پیغمبر (ص) ۱۴۰۰ کاله مخکې ویلي چې مصرفوي په متعدله ډول باندې. که انسان په ژوند کې خپل مصارف کنټرول نه کړي، په ژوند کې به د سرمایې او شتمنۍ څښتن نه شي.الله تعالی د مومنانو صفت بیانوي. [اذاانفقو لم یصرفو ولم یکفرو کان بین ذالک قوما] ژباړه: مومنان هغه خلک دي، کله چې مال مصرفوي اصراف نه کوي، کفر نه کوي او د دواړو په منځ کې افراط او تفریط نه کوي.

**په اصطلاح کې:** د قواعدو او مقرراتو ټولګه ده، چې د نامحدودو انساني اړتیاوو او محدودو وسایلو تر منځ همغږي رامنځ ته کوي.

**اسلامي اقتصاد:** عبارت له عامه اصولو او قواعدو څخه دی، چې په قران او سنت کې بیان شوي وي او دهرې زمانې او هر ځای مطابق د خلکو اقتصادي چارې تنظیموي.

**د اسلامي اقتصاد په اړه احکام په دوه ډوله دي.** **۱- ثابت** **۲ـ متغییر**

**۱ـ ثابت احکام:** عبارت له هغه قواعدو څخه دي چې په قران او سنت کې بیان شوي وي، د وخت او ځای مطابق بدلون پکې نه راځي.

الله تعالی فرمايي: [هوالذی خلق لکم ما فی الارض جمیعا.] الله تعالی هغه ذات دی چې هر څه یې ټول په ځمکه کې پیدا کړي دي.

الله تعالی فرمايي: [جعل لکم الارض ذلولاًما مشوافی منا کبها وکلو من رزقه و الیه النشور.]

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې ځمکه یې تابع ګرځولې او وګرځئ د ځمکې په اطراف کې، ځکه چې ددې په شاوخوا کې روزي ده او بېرته الله تعالی ته ورګرځي.

[للرجال نصیب مما اکتسبوا و للنساء نصیب مماا کتسبن.] د سړیو لپاره حصه ده د هغه څه نه چې ګټلي یې دي او د ښځو لپاره حصه ده د هغه څه نه چې لیدلي یې دي.

**۲ـ متغیر احکام:** عبارت د هغه احکامو څخه دي چې د وخت او زمانې په اساس پکې بدلون راځي.

د کفایت کچه د زمانې په اساس تغیر کوي. حکومت مکلف دی، چې ملت ته د ضرورت په اندازه غذا برابره کړي، چې دزمانې په اساس تغیر کوي.

**د اسلام د اقتصادي نظام ځانګړتیاوې:**

۱ـ د اسلام اقتصادي نظام د انساني فطرت سره موافق دی او په ټکر کې نه دی. [و تحبون المال حباجماء] تاسو زیاته مینه کوئ له مال سره.

د شتمنۍ سره مینه د انسان د فطرت غوښتنه ده؛ نو د همدې امله اسلام شخصي ملکیت مني.

کمونېزم تقریباً (۷۵) کاله په زور تطبیق شو، په زرګونه کسان ووژل شول، د انسان د فطرت خلاف وو، داسې نظام وو چې ټولو ته یې په مساوي ډول میاشتنۍ پیسې ورکولې، چاشخصي شتمني نه درلوده.

۲ـ اخلاقي ارزښتونو ته په احترام قایلېدل. د اسلام له نظره چې یو څوک روزي ګټي، باید د اسلام په چوکات کې یې وګټي، یعنې رشوت ونه خوري، حلاله روزي وګټي، چاته به دروغ نه وایي، سود به نه خوري او فریب به نه ورکوي. دایې غټه ځانګړنه ده چې په نورو نظامونو کې نشته.

**احتکار:** د لومړیو خوراکي توکو ټولول ددې لپاره چې قیمت يې لوړ شي، بېرته يې بازار ته راوباسي، چې دا کار په کپټالېزم کې اوج ته رسېدلی وو. همدارنګه سود خوري چې په اسلام کې دا کار ناروا دی.

الله تعالی فرمایي: [وتعاونوا علی البر...] د یو بل سره مرسته وکړئ په تقوا او نیکو کارونو کې.

۳ـ د ټولنې د افرادو اصلي اړتیاوې پوره کول. د اسلام له نظره حکومت مکلف دی، چې د ټولنې د وګړو ټولې اړتیاوې پوره کړي، یعنې ځوک چې متخصص دي، حکومت مکلف دی، چې هغه په دنده وګوماري.

۴ـ په داسې توګه ملکیت چې انسان د الله پاک نماینده وي. د هر شي اصلي مالک یا حقیقي مالک الله تعالی دی او انسان يې مجازي مالک دی.

[و انفقو مما جعلکم مستخلفین فیه.] ژباړه : مصرف کړئ د الله تعالی په لاره کې له هغه ماله چې الله تعالی تاسې نماینده ګان ګرځولي یئ.

۵ـ د اسلام اقتصادي نظام د عباداتو سره تړاو لري. د همدې کبله په اقتصاد کې (حلال، حرام، مباح) الفاظ کاروو. حلاله روزي ګټل، د اسلام له نظره عبادت دی.

٦ـ د فردي ملکیت او ټولنیز ملکیت تر منځ توازون.

که د دواړو تر منځ ټکر راشي؛ نو ټولنیز ملکیت ته ترجیع ورکول کیږي.

**د اقتصادي نظام ارکان درې دي:**

۱ـ ګډ مالکیت ( فردي او ټولنیز) په نظر کې نیول.

کپیټالیزم ټول په فردي ولاړ دی او سوشیالیزم ټول په ټولنیز.

۲ـ اقتصادي مقیده ازادي: د اسلام له نظره هر فرد ازاد دی، چې ښه اقتصاد ولري؛ خو ازادي يې مقیده ده.

مقیده په دې معنی، چې د شریعت په چوکاټ کې وي، سود به نه خوري، رشوت به نه خوري... .

۳ـ ټولنیز تکافل: د ټولنې د افرادو مرسته یو له بل سره د ټولنې د مصلحت لپاره.

**د قرانکریم اقتصادي برنامه:**

۱ـ عقیده درلودل په دې چې الله تعالی روزي ورکونکی دی.

۲ـ د دنیا او اخرت د ښه ژوند دعا. قرانکریم راښودلې ده.

۳ـ په دې عقیده درلودل چې د تقوا په واسطه روزي زیاتیږي. تقوا یعنې د الله تعالی امر په ځای کول.

**د اسلام په اقتصاد کې د پیغمبرانو رول:**

هر پیغمبر اقتصادي برنامه درلودله او اقتصاد وروسته نه دی رامنځته شوی؛ بلکې د انسان د پیدایښت، یعنې د لومړي پیغمبر له پیدایښت سره سم رامنځته شو.

ادم (ع) الله(ج) خلیفه ګڼلی. خلیفه هم هغه چاته وایي چې د الله احکام د الله پر بندګانو تطبیق کړي. د الله تعالی په احکامو کې یوازې عقیده نه ده، اخلاق هم دي.

ابوهریره (رض) حدیث روایت کړی دی. [کانت بنواسراییل تسوسهم الانبیأ] ژباړه: د اسرایلو سیاست به انبیاوو په مخ وړلو.

د سیاست سره اقتصاد هم تړاو لري. سیاست د تدابیرو او قواعدو ټولګه ده چې په نتیجه کې انسان اصلاح کیږي او له فساد څخه یې لیرې کوي.

موسی (ع) د ظلم درې سمبولونو سره چې په خلکو به یې حکومت کاوه لکه (زور، زر او تزویر) سره مبارزه وکړه. دا درې سمبولونه د ظلم و. زور(سیاسي قدرت) د فرعون سره و. فرعون به هر وخت خلک وژل او په خلکو به یې په زور حکومت تطبیق کاوه.، زر (اقتصادي قدرت) د قارون سره و. قارون به همېشه د خلکو له جیبونونه پیسې اخیستې او د خلکو حقوق به یې تلف کول او تزویر به د بلعم بن باعور سره و، د موسی (ع) په لاره کې به یې خنډونه جوړول.

حضرت یوسف (ع) په اقتصاد کې قوي برنامه درلوده، هغه ویلي و چې په مصر کې به وچکالي راشي؛ نو خلک یې وهڅول چې مخکې له مخکې تیاري ورته ونیسي او خپله یې هم اقدام وکړ. پادشاه ته یې وویل: ما د خزانې وزیر مقرر کړه. کله چې یوسف (ع) محصولات ذخیره کړل د نورو هېوادونونه هم خلک ورته راغلل.

شعیب (ع) هم اقتصادي برنامه درلودله. کله چې یې خلک د الله تعالی عبادت کولو ته راوبلل؛ نو ورته ویې ویل چې په پیمانه کې ګناه مه کوئ. ګناه په دوه ډوله ده، چې یوه ګناه د الله تعالی په حق کې ده او بله د بنده په حق کې ده. که

څوک لمونځ ونه کړي، کېدای شي الله تعالی یې معاف کړي؛ خو که څوک د بنده په حق کې ظلم وکړي، الله تعالی یې نه ښښي، تر څو چې بنده یې ونه ښښي.

**د مالکیت برنامه د اسلام په اقتصادي نظام کې:**

دیوان د حضرت عمر(رض) په وخت کې را منځته شوی او عمر(رض) د فارس څخه راوړ. دیوان چې جمع یې (دواوین) دي یعنې وزارت، د مالیې اقتصاد...وزارتونه یې ټاکل.

د پیغبر(ص) مهر د ګوتې وو چې په ګوته یې محمد لیکلي وو.

شفاخانه او پوهنتون مسلمانانو رامنځ ته کړی وو.

**مال:** مال په لغت کې هر هغه شی چې د انسان طبیعت ورته میلان کوي او یو شمېر وایي هر هغه شی چې انسان یې مالک کېدای شي مال بلل کیږي.

**په اصطلاح کې:** ابن عابدین وایي: مال هغه شی دی چې د انسان طبیعت د هغه په لوري میلان لري او ذخیره کول یې شوني وي. دا تعریف ځینې نیمګړتیاوې لري. لکه؛ زهر هم مال دی؛ خو څوک یې نه ذخیره کوي.

ابن عربي وایي: مال هغه شی دی چې انسان ورته طمع کوي او شرعاً او عادتاً ور څخه ګټه اخیستل کیږي.

خطیب شربیني وایي: مال هغه شی دی چې ګټه اخستل ور څخه مطلقاً مباح وي.

**د مال ډولونه:** مال له بېلابېلو ډولونو څخه وېشل کیږي.

۱ـ د حرمت او حمایت له مخې مال په دوه ډوله دی. ۱ـ متقوم ۲ـ غیرمتقوم

**۱ـ متقوم مال:** مقتوم مال هغه مال دی چې شرعاً ارزښت ولري او طلب کوونکی یې ضامن و ګټل شي. د مثال په ډول: څوکۍ مال دی که ماته شي، باید توان یې ورکړل شي.

**۲ـ غیر مقتوم مال:** هغه مال دی چې شرعي ارزښت ونه لري او طلب کوونکی یې ضامن و نه ګټل شي. لکه: شراب .... .

**دویم: د مال تقسیم د جوړښت او شکل په اعتبار:**

مال د تقسیم له مخې په دوه ډوله دی: ۱ـ مثلي مال ۲ـ قیمي مال

**۱ـ مثلي مال:** هغه مال دی چې په پیمانه او وزن سره اندازه کیږي. لکه: بوره، وریجې، اوربشې ... .

**۲ـ قیمي مال:** هغه مال دی چې په پیمانه نه اندازه کیږي. یا په بل عبارت هغه مال دی چې مثل یې په بازار کې نه پیدا کیږي. لکه: پسه د طلب کېدو په وخت کې. په مثلي مال کې مثل ورکول کیږي او په قیمي مال کې قیمت ورکول کیږي.

**دریيم: د استقرار او عدم استقرار له مخې مال په دوه ډوله دی:** ۱ـ منقول مال ۲ـ غیر منقول مال

**۱ـ منقول مال:** هغه مال دی چې له یو ځای څخه بل ځای ته نقل کېدای شي. لکه: موټر، طیاره ... .

**۲ـ غیر منقول مال:** هغه مال دی چې له یو ځای څخه بل ځای ته نه نقل کیږي. لکه: کور، باغچه، ځمکه ... .

په غیر منقول مال کې شُفعه را منځته کیږي. شریعت د ضرر رفع کولو لپاره شفعه روا کړې ده.

**څلورم: د نقد او جنس له مخې د مال وېشل:**

**۱ـ نقد:** نقد عبارت له طلا، اوسپنه، زرو څخه دی.

**۲ـ جنس:** جنس هغه مالونه دي چې د نقد په توګه نه وړاندې کیږي؛ بلکې د جنس په توګه وړاندې کیږي.

نقد په پیسو کیږي او په جنس کې جنس په جنس کیږي. په نقدو کې تغیر راځي، په جنس کې تغیر نه راځي. په نقدو کې تغیر راوستل توپیر نه کوي او په جنس کې توپیر راوستل ناروا دي.

**په مال کې دوه ډول حقوق دي:** ۱ـ حق دالله (دټولنې حق) ۲ـ حق العبد (د بنده حق)

**په نړۍ کې دوه نظامونه دي.** ۱ـ کاپیټلیزم ۲ـ سوشیلېزم

**۱ـ کاپیټلیزم**: ټول ټینګار پر شخصي ملکیت باندې کوي. ټولنې حق ته درنښت نه ورکوي.

**۲ـ سوشیلېزم:** ټولنیز ملکیت ته په ارزښت قایل دي. هر څه باید د دولت وي. شخصي ملکیت په رسمیت نه پېژني. اسلام دواړه ملکیته پېژني، هم شخصي او هم ټولنیز.

**مالکیت:** مالکیت په اصل کې له ملک څخه اخیستل شوی دی چې مالک، صاحب یا څښتن ته وایي او په اصطلاح کې عبارت له هغه رابطې څخه دی چې د یو شخص او مال تر منځ موجود وي.

**د ټولنیز ملکیت موخې:** شریعت اجازه ورکوي.

۱ـ تر څو خلک د عامه شتمنیو مالک شي. ۲ـ خلکو ته اسانی او سهولت رامنځته کول.

۳ـ د دولت د مصارفو تعمینول. ۴ـ د سترو پروژو رهبري کول.

**د شخصي ملکیت موخې:**

۱ـ له دولت سره مرسته د خصوصي پروژو له لارې. ۲ـ د افرادو لپاره ګټه برابرول.

۳ـ دولت ته فرصت ورکول چې په وړو پروژو کې مصروف شي. ۴ـ د افرادو د شخصي مالکیت غریزه پوره کول.

۵ـ د ټولنې افراد سالم رقابت ته تشویقول.

## شخصي ملکیت

هر هېوادوال د خپلې هڅې او تلاش په نتیجه کې شخصي ملکیت یا شتمني ترلاسه کولی شي..الله تعالی فرمایي:

[ قل اللهم مالک الملک توتی الملک من تشأ]

**اسباب د شخصي ملکیت:** په کومو لارو- چارو کې خصوصي ملکیت تر لاسه کولی شو.

**۱ـ مباح مالي عقدونه:** که وکړل شي او که ونه کړل شي ګناه نه شته ده. مالي عقدونه مال سره تړاو لري، شریعت اجازه ورکړې ده؛ لکه: هبه یو عقد دی، بیع، مضاربت یعنې یو کس پیسې لري؛ خو کاروبار نه شي کولی. پیسې اخلي داسې چاته یې ورکوي، چې په کاروبار باندې پوهیږي، بیایې ګټه نیمایي کوي.

**۲ـ د وارث یا میراث حق:** د اسلام ځانګړتیا ده،چې ورور، خور، اولاد ټول په میراث کې حق لري.

**۳ـ کسب وکار:** ټولو پیغمبرانو به کسب وکار کاوه او شتمني به یې لاس ته راوړله.. د رسول الله (ص) په صفتونو کې راځي، چې تحفه یې اخسته خو صدقه به یې نه اخیسته. رسول الله (ص) فرمایي چې جګ لاس له ټیټ لاس څخه غوره دی، که څه هم زکات روا وي؛ خو بیاهم ښه نه دی، انسان باید همېشه هڅه وکا.

**۴ـ مهر:**

**۵ـ صدقات:** نفلي صدقات، چې څوک يې ورېږ وي.

**٦ـ زکات:**

**۷ـ مالي کفارات:** که چا قسم وخوړ، بايد مقابل کې يې کفاره ورکړي. غلام ازاد کړي، درې ورځې روژه ونيسي او ياهم لسو غريبانو ته جامې ورکړي.

**۸ـ د نفقې حق په خاوند:** ښځه چې کوم مصارف له خاوند څخه اخلي، هغه يې شتمني ده.

**قيودات:** د شخصي ملکيت ترلاسه کولو کې انسان ازاد نه دی، ځينې محدوديتونه، قيودات ورته اېښودل شوي دي، تر څو ټولنې ته ضرر ونه رسيږي.هغه قيودات يا شرطونه دادي.

۱ـ د شخص د شتمنۍ سرچينه بايد مشروع وي، په مشروع لارو کې به يې پيدا کوي. غلا به نه کوي، سود او رشوت به نه خوري.

۲ـ په شخصي ملکيت کې تصرف نورو خلکو ته د ضرر لامل ونه ګرځي. له خپل شخصي ملکيت نه به ناوړه استفاده نه کوي.

۳ـ شخصي ملکيت بايد له ټولنيز ملکيت سره په ټکر کې ونه اوسي. که چېرې په ټکر کې واقع شي، ټولنيز ملکيت ته به ترجيح ورکول کيږي. ددې قاعدې په اساس [لاضرر ولا ضراره فی الاسلام] په اسلام کې ضرر رسول او ضرر په ضرر رفع کول نشته.

۴ـ د شخصي ملکيت څخه د ګټې اخيستلو پر وخت اعتدال مراعاتول. يعنې اسراف بايد ونه شي. الله تعالی فرمايي: [والذين اذا انفقوا لم يسر فوا ولم يقتروا] ژباړه: واقعي مومنان هغه څوک دي چې اسراف نه کوي، کنجوسي يا بخل هم نه کوي، دواړو تر منځ معتدل اوسيږي .

همدارنګه بل ځای کې الله تعالی فرمايي: [ کلوا و اشربوا ولا تسرفوا] وخورئ، وڅکئ او اسراف مه کوئ.

۵ـ ځينې کسان په ټولنه کې داسې دي، چې په خپل مصرف نه پوهيږي، اسلامي شريعت هغوی ته حجر يا منع وضع کړې ده. داسې کسان چې خپله شتمني په سمه توګه نه مصرفوي، هغه کس ته محجور عليه يا منع شوی وايي، د هغه لپاره حکومت مکلف دی چې مال يې بل چا ته وسپاري چې هغه سمه استفاده ترې وکړي.

حکومت باید ده ته محجور وټاکي او دی حجر کړي.

**عمومي ملکیت:** هغه ملکیت چې د ټولنې ټول وګړي پکې شریک وي.

**اسباب:**

۱ـ اوقاف: د اوقاف له لارې چې کوم مال راځي، ټول پکې برخه لري.

۲ـ څر ځای (هر څوک استفاده ترې کولای شي.)

۳ـ لومړنی اړتیاوې (هغه اړتیاوې دي، چې انسان بې له هغه څخه ژوند نشي کولای؛ لکه: اوبه، هوا، اور...)

۴ـ معادن؛ لکه: د پطرولو معدن، د مالګې معدن...

۵ـ زکات؛ حکومت به زکات راټولوي.

٦ـ جزیه؛ له نامسلمانانو خلکو څخه اخیستل کیږي، چې په مسلماني ټولنه کې ژوند کوي.

۷ـ خمس د غنیمت پینځمه برخه ده، یوه برخه د بیت المال او څلور برخې یې په خپلو منځو کې وېشي.

۸ـ هغه مالونه چې څښتن نه لري، ځمکې د بیت المال مربوط دي، ټولنې ته یې خیر ګټه رسیږي.

۹ـ عشر: د عشر له لارې دولت د شتمنی‌څښتن کیږي. عشر د ځمکې په محصولاتو کې وي.

**ربا:** په لغت کې زیادت یا زیاتوالي ته وایي.

[وَمَاآتَيْتُمْ مِنَ رِبًالِيَرْبُوًا فِی الْاَمْوَاَلِ النَّاسِ فَلَايَربُوْا عِنْدَاللهِ] ژباړه: هغه سود چې تاسو په مالونو کې ورکوئ، د تاسو په مال کې زیاتوب نه راځي.

په اصطلاح کې: د ربوي جنس خرڅول په هماغه ربوي جنس زیادت سره. لکه: وریجې په وریجو... .

جنس په جنس بدلول سود دی. هغه توکي چې تَلل (پیمانه) کیږي. یا هم جنس په بل جنس بدلول چې یو قرض وي. مثلاً: یو من وریجې ترې یوسې او یوه میاشت وروسته یو من غنم ورته راوړې.

**د ربا ډولونه:** په دوه ډوله ده. ۱ـ ربا الفضل ۲- ربانسیه

۱ـ رباالفضل: جنس په جنس بدلول له زیاتوب سره.

۲ـ ربانسیه: ربوي جنس په بل ربوي جنس بدلول، په داسې حال کې چې یو قرض وي.مثلاً؛ ربوي جنس وریجې په غنمو بدلول کیږي.

ربانسیه په دوله ډوله ده. ۱ـ زیادت د وخت په مقابل کې ۲ـ زیادت د قرض په مقابل کې

**۱ـ زیادت د وخت په مقابل کې:** په مشخص وخت کې قرض ورکول کیږي، که چېرې په مدت کې تمدید راشي، ګټه یې هم باید زیاته شي. د زیادت ربا ته د جاهلیت ربا هم وایي. د وخت په تېرېدو سره به په قرض کې هم زیاتوب راتله.

**۲ـ زیادت د قرض په مقابل کې:** قرض ورکول کیږي، په مقابل کې یې ګټه اخیستل کیږي.(د قرض چې څومره وخت وځي، هغومره یې پیسې د قرض هم ډېرېږي.)

**د ربا حکم:** د ربا حرمت په قرانکریم، احادیثو، اجماع باندې ثابت دی.

دلیل یې: الله تعالی په قرانکریم کې فرمایي: [وَاَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَ حَرَمَ الرِبا]

د ربا په حرمت کې څلور مرحلې راغلې دي.

۱ـ الله (ج) په قرانکریم کې وایي: دغه پورتنی ایت شریف.

۲ـ یو تاریخي خبر ورکوي الله (ج) فرمایي: [فیظلم من الذین هادوا حرمنا علیهم طیبات احلت لهم و بصدهم عن سبیل الله کثیراً وا خزهم الربا و قد نهو عنه] ژباړه: یهودیانو ته موږ د ظلم پواسطه حلال او پاک شی حرام کړل او په سبب د منع کولو د الله (ج) له لارې څخه د خلکو او په اخیستلو د سود مو حلال او پاک شی حرام کړل.

۳ـ الله (ج) فرمایي: [یاایهاالذین امنو الا تاکلو اضعافاً مضاعفته] ژباړه: اې هغو کسانو چې تاسو ایمان راوړی دی، مه خورئ! د خلکو مالونه په څو چنده.

۴ـ الله (ج) فرمایي: [یاایهاالذین امنوا اتقوا الله وزروا ما بقی من الربا ان کنتم مومنین فان لم تفعلوا فاذ نوا بجرب من الله و رسول]

**د ربا د حراموالي فلسفه:**

۱ـ د مسلمانانو ایمان پرې ازمویې.

جزوي فلسفه یې: د مسلمانانو مالونه باید له باطل څخه وساتل شي.

۱ـ د مسلمانانو مالونه باید په باطله توګه ونه خوړل شي.

۲ـ مسلمانان مجبورول، تر څو جائزو معاملاتو کې مشغول شي.

۳ـ د عداوت او عقدو مخنیوی.

۴ـ د ظلم مخنیوی، نو ځکه اسلام سود حرام کړی دی. سود په ټولو اسلامي ادیانو کې حرام وو.

**د ربا ضررونه:** د رباضررونه په څو ډوله دي.

**۱ـ اخلاقي ضررونه:**

۱ـ د مال سره مینه زیاتوي.

۲ـ د بشر دوستۍ حس له منځه وړي.

۳ـ د عقدو لامل ګرځي.

۴ـ سودي معاملات رامنځته کوي.

**۲ـ ټولنیز ضررونه:**

۱ـ طبقاتي نظام رامنځته کوي.

۲ـ سیاسي قدرت به د سود خورو په لاس کې وي.

۳ـ راحت طلبي (تنبلي رامنځته کوي).

۴ـ د تعاون (همکاري) روحیه له منځه وړي.

۵ـ مادیت پرستي رامنځته کوي.

٦ـ د ټولنیز فساد اساس دی.

نوټ: مال د اسلام له نظره وسیله ده. د کپیټالیزم او سوشیالېزم له نظره هدف دی.

**د اسراف او تبزیر تر منځ توپیر:**

ـ **تبزیر:** د مال مصرفول له معینې اندازې څخه زیات.

ـ **اسراف:** اسراف عام دی په خبرو، عمل او اقتصاد کې استفاده کیږي او تبزیر یوازې په اقتصاد کې دی.

**ـ اسراف:** د مال مصرفول په مناسب ځای کې له حد څخه زیات او تبزیر د مال مصرفول په نامناسب ځای کې له حد څخه زیات.

الله (ج) فرمايي: تبزير کوونکي د شيطانانو ورونه دي.

**د رشد او توسعې برنامه:** د اقتصاد په برخه کې دوې برنامې لرو. ۱ـ ثابت ۲ـ متغیر

څرنګه خپل اقتصاد ته وده ورکولی شو؟

**د اقتصادي پرمختګ لپاره پلانونه:**

**الف: پانګونه:** په اساسي شيانو کې؛ لکه: تعليمي پانګونه وکړو، په صحي برخه کې پانګونه وکړو، د توليد په برخه کې پانګونه وکړو.

**ب: د مسلکي او متخصصو کوادرو روزنه:**

۱ـ موږ اړتيا لرو چې د اقتصاد، سياست، زراعت ... پر برخو کې متخصصين ولرو. قوي متخصيصنو او کوادرو ته اړتيا لرو.

**ج: لومړيتوب بايد په نظر کې ونيول شي:** د دين په برخه کې موږ لومړيتوبونه لرو ؛ لکه: فرض، سنت، واجب او په اقتصاد... هم لومړيتوبونه لرو.

**د انسان اړتياوې په درې ډوله دي:**

۱ـ ضروريات ۲ـ حاجيات ۳ـ جماليات

**۱ـ ضروريات:** هغه شيان چې انسان پرته له هغه څخه ژوند نشي کولای. ضروريات بلل کيږي. په اقتصاد کې لومړی ضروري شيان خوراک، څښاک،هوا... .

**۲ـ حاجيات:** هغه شيان دی چې پرته له هغه څخه ژوند کول ستونزمن دي. لکه: تعليمي مدارس، ترانسپورتي وسايل، صحي مرکزونه... .

**۳ـ جماليات:** هغه شيان دي چې د انسانانو ژوند ښايسته کوي؛ لکه: پارکونه، د لوبو ميدانونه، د تفريح ځايونه... .

په شاپاټې هېوادونو کې د تل لپاره خبره له جمالیاتو څخه شروع کیږي، په داسې حال کې چې په لوړیتوب کې ضروریات او حاجیات وي. د ژوند په ټولو برخو کې باید لوړیتوبونه په نظر کې ونیول شي.

**د:** اساسي اړتیاوې لومړی باید حل شي.

**هـ:** د نورو خلکو له تجاربو او علمي څېړنو څخه استفاده کول.

**و:** د داخلي تولیداتو د رشد پلان: یعنې داخلي تولیداتو ته څرنګه وده ورکولی شو. حضرت علي (رض) فرمایي: که چېرې زه فقر سره مخ شم، که هغه د انسان په شکل وي، زه به هغه ووژنم.

**ز:** د مصارفو لپاره منظمه برنامه او د بېځایه مصارفو مخنیوی.

**ح:** د اداري فساد په وړاندې د مبارزې پلان.

**ط:** د نورو ادارو رامنځته کول او د اضافي ادارې له منځه وړل.

**ی:** د امکاناتو د تخصص برنامه:

**ک:** د عایداتو د وېش لپاره منظمه برنامه:

**تولیدي وسایل څلور دي:**

۱ـ سرمایه ۲ـ کاري ځواک (انسان) ۳ـ ځمکه ۴ـ وسایل

**نوټ:** په نننی نړۍ کې خطرناکه جنګ اقتصادي جنګ دی.

**د اسلام په اقتصادي نظام کې د مرستې او همکارۍ برنامه:**

[وتعاونو علی البر والتقوا] یو د بل سره مرسته وکړئ د تقوا په کارونو کې.

**۱ـ زکات:** زکات په لغت کې ډېروالی، وده کول، مال ورسره وده کوي. د زکات بله معنی پاکي او طهارت دی چې انسان د بدو صفاتو څخه پاکیږي.

په اصطلاح کې واجب شوی حق دی په ځانګړو حالاتو کې، په ځانګړي شکل په دې شرط چې کال پرې تېر شوی وي او نصاف ته رسېدلی وي.

د زکات نصاف (۸۵ګرامه) طلا او یا (۵۹۵ګرامه) نقره یا سپین زر دي، چې په دې زکات واجب دی. د فیصدۍ په اساس طلا (2.5%) یعنې ۲۵۰۰.

**د زکات حکم:** زکات فرض دی، چې حکم یې په قرانکریم، سنت او احادیثو کې ثابت شوی دی. په قرانکریم کې (۲۸) ځله لمونځ او یو ځای زکات ذکر شوی دی.

**۲ـ د قرض په ورکولو کې:** په ټولنه کې یو مسلمان اړتیا لري، بل مسلمان مکلف دی، چې مرسته ورسره وکړي. د قرض له لارې، قرض حسنه ورکړي

**۳ـ د نفلي صدقاتو له لارې مرسته کول:**

**۴ـ ټولنیز تکافل:** د ټولنې د افرادو ګډون د ټولنې د مصالحو لپاره.

**شرکتونه (شراکت):** په لغت کې شریک کېدلو ته وایي، په هر څه کې شریک کېدل او په اصطلاح کې د دوو یا زیاتو کسانو شریک کېدل دي په سرمایه او ګټه کې.

**شرکت په پنځه ډوله دی:**

۱ـ د عنان شرکت ۲ـ د مضاربت شرکت ۳ـ د وجوه شرکت ۴ـ د ابدال شرکت ۵ـ د مفاوضه شرکت

**۱ـ د عنان شرکت:** په عربي ژبه کې کیزې یا قبضې ته وایي او په اصطلاح کې هغه شرکت دی چې په مال او کارکې برابر شریک وي.

**د عنان شرکت شرطونه:**

۱ـ رأس مال (پانګونه) باید نقد وي. ۲ـ مقدار د مال یې باید معلوم وي. ۳ـ پیسې یا سرمایه باید ځای په ځای حاضر وي. ۴ـ ګټه یې تقسیم شي نه سرمایه.

**۲ـ د مضاربت شرکت:** عبارت له هغه شرکت څخه دی چې سرمایه د یوه کس او کار د بل کس په غاړه وي، په داسې توګه چې ګټه یې د فیصدۍ په اساس د دواړو لوریو په موافقت وویشل شي.

**د مضاربت شرکت شرطونه:**

۱ـ رأس مال باید نقد وي. ۲ـ منفعت باید د فیصدۍ په اساس په موافقت وټاکل شي. ۳ـ سرمایه باد معلومه وي.

**۳ـ د وجوه شرکت:** هغه شرکت دی چې دوه مخور کسان شریک کیږي، په داسې حال کې چې سرمایه نه لري او جنس په قرض رانیسي. وجوه د وجهې جمع ده، چې دې شرکت ته د ذمو شرکت هم وایي.

**۴ـ د ابدان (اعمال) یا کار شرکت:** عبارت له هغه شرکت څخه دی، چې دوه کسان شریک شي په داسې توګه چې دواړه کار په ذمه واخلي.

**۵ـ د مفاوضه شرکت:** د تفویض نه اخیستل شوی دی، چې سپارښتنې ته وایي. عبارت له هغه شرکت څخه دی، چې دوه یا ډېر کسان په یوه عمل کې شریک شي؛ په دې شرط چې دواړه به په تصرف، رأس مال او دَین کې مساوي وي.

**د تولید عناصر:**

**د تولید عناصر څلور دي:** ۱ـ کاري ځواک ۲ـ سرمایه ۳ـ ځمکه ۴ـ وسایل

**۱ـ کاري ځواک (انسان):** د لومړي عنصر لپاره دوه شرطونه دي.

**الف:اخلاقي شرط:** کوم اخلاق او اداب یو کارګر مراعات کړي؟

۱ـ مسؤلیت پېژندل او په کار کې اتقان (په سمه بڼه د کار سرته رسول). [ان الله یحب اذا عمل احدکم ان یتقه] الله (ج) هغه کس خوښوي چې کار په ښه توګه تر سره کړي.

۲ـ په عمل کې اخلاص درلودل: ۳ـ په وعده باندې وفا کول

۴ـ صداقت او رینښتینولي ولري په خپل کار کې. ۵ـ د ګزارش او حساب ورکول چمتوالی

عمر (رض) د خپلو کارمندانو څخه حساب غوښت. یوه ورځ یې د ابوهریره څخه پوښتنه وکړه چې دا پیسې دې له کومه کړې؟ ده ورته وویل؛ چې دامې اسونه لرل هغه مې خرڅ کړل. د عمر (رض) زړه تسکین ونه شو؛ نو پیسې یې ترې واخیستې او بیت المال ته یې ورکړې. اوهریره (رض) د بحرین والي ؤ.

**ب: صلاحیتونه او حقوق:**

۱ـ د انساني کرامت حق مزدور ته به سپک- سپور نه وایي، توهین به نه کوي.

۲ـ اجوره ورکول (مزدوري ورکول): پیغمبر (ص) وایي: مزدور ته مخکې له دې چې خولې یې وچې شي، اجوره ورکړئ.

پیغمبر (ص) په قدسي حدیث کې وایي: الله (ج) فرمایي د قیامت په ورځ زه له درېیو کسانو مدعي یم.

۱ـ هغه کس چې چاته زما په نوم قسم وخوري او بیا خیانت ورکړي.

۲ـ هغه کس چې زما ازاد بنده د پیسو په مقابل کې خرڅوي.

۳ـ هغه کس چې مزدوري یې ونیو او کار یې پرې وکړ او بیایې په اخر کې وشړي.

۳ـ صحي، تعلیمي او اجتماعي حق دی. د کارګر روغتیا په نظر کې ونیسي... .

**دویم عنصر د تولید سرمایه ده:** په قرانکریم کې (۸۲) ځله مال په بېلابېلو نومونو یاد شوی؛ لکه: مال، زینت، متاع، فضل، خیر... . [وانه لحب الخیر الشدید] دلته خیر د مال په معنی راغلی. په بل ایت کې راځي. [المال والبنون زینت حیاةالدنیا]

**رأس المال (سرمایه):** سرمایې ته په عربي کې رأس المال وایي. رأس المال د یو شي لوړوالي ته وایي. په اصطلاح کې، اصلي سرمایه پرته له ګټې څخه رأس المال بلل کیږي.

**د سرمایې ډولونه:** سرمایه په درې ډوله ده.

۱ـ سرمایه د تولیدي وسایلو په شکل. (ماشین چې تیکه تولیدوي).

۲ـ د منفعت (ګټې) په شکل. (اپارتمان په کرایو ورکول).

۳ـ د تجارت په شکل. (د موبایلونو خرڅول).

**د روا والي او ناروا والي له مخې سرمایه په دوه ډوله د.     ۱ـ حلاله سرمایه     ۲ـ حرامه سرمایه**

**۱ـ حلاله سرمایه:** هغه ده چې د روا یا مشروع لارو لاس ته راځي.لکه: د ځمکې حاصلات...

**۲ـ حرامه سرمایه:** هغه سرمایه ده چې د ناروا لارې لاس ته راځي. لکه: قمار، شراب...

## د اقتصادي فساد په وړاندې مبارزه:

اسلام هر ډول فساد په ټولنه کې نه پربږدي او په وړاندې یې مبارزه کوي، که هغه اخلاقي، اقتصادي، سیاسي فساد وي، ټول باید له ټولنې څخه ورک شي.اسلام په عقیده ډېر ټینګار کوي، ځکه عقیده د فسادپه ختمولو کې ډېر رول لري او د جرایمو مخینوی کوي. عقیده د (٪ ٦٠-٧٠) د جرایمو مخنیوی کوي.

### د فساد له منځه وړلو لپاره لارې چارې:

۱ـ د فساد له منځه وړلو لپاره ټولنیز تکافل دی. په مالي برخه کې له یتیمانو، کونډو، معلولینو، ناروغانو ... مرسته.

۲ـ مالي مکلفیتونه ادا کول؛ لکه: زکات، نذر، صدقه... .

۳ـ په نېکو کارونو کې یو له بل سره مرسته کول. الله تعالی فرمایي: [وتعاونو علی البرو التقوا ولا تعاونو علی الاثم والعدوان]

۴ـ د امانت، قناعت او سربښندنې مراعتول.

۵ـ تجاران اسلامي ارزښتونو ته دعوتول. پیغمبر (ص) وایي: [التبیعان باالخیار مالم یتفرقا فان صدقا]

پیغمبر (ص) د تاجر په اړه وایي: [التاجر الصدوق الامین مع النبین والصدیقین والشهداء] ژباړه: ډېر رښتیاویونکی تاجر او امانت دار به د قیامت په ورځ به د پیغمبرانو په ډله کې ولاړ وي. له رینښتیني خلکو سره او له شهیدانو سره به د قیامت په ورځ حشر کیږي.

### د تاجر ارزښتونه:

**۱ـ د نیت اصلاح کول:** تاجر باید ښه نیت ولري. [انماالاعمال بالنیات] ټول عملونه د نیت سره تړلي دي.

**د ښه نیت ګټې:**   ۱ـ عادات په عبادت بدلیږي.     ۲ـ له منفي عاداتو څخه ژغورل کیږي.

۳ـ مثبت تصمیمونه یې په مادیت پرستۍ باندې غالبیږي.

**۲ـ نېک اخلاق درلودل:** پر وعده باندې وفا کول، صداقت، دروغ نه ویل، چل و فریب نه کول. تجار باید دا اخلاق مراعات کړي.

**۳ـ په حلالو چارو کې تجارت کول:** تجار باید په حلالو لاروـ چارو کې تجارت وکړي.

**۴ـ د نورو حقوق اداً کول:** مثلاً؛ د الله تعالی حق اداً کول (زکات ورکول). مزدور ته په وخت اجوره ورکول.

**۵ـ د سود ورکولو او اخیستلو څخه ډډه کول.**

**بیع:** بیع په لغت کې تبدیلولو یا بدلولو ته وایي. په اصطلاح کې مال په مال بدلو ل د طرفینو په رضایت.

**د بیع ډولونه:** بیع په درې ډوله ده. ۱ـ مطلقه بیع ۲ـ مقایضه بیع ۳ـ صرف بیع

**۱ـ مطلقه بیع:** جنس په نقد بدلولو ته وایي. لکه: غنم په پیسو باندې... .

**۲ـ مقایضه بیع:** جنس په جنس بدلولو ته وایي. لکه چوکۍ په چوکۍ بدلول.

**۳ـ صرف بیع:** نقد په نقد بدلولو ته وایي. لکه: تومان، کلدارې، دالر، افغانۍ...

**بیع:** لاس په لاس بدلولو ته وایي، بې غوښتنې یوځه اخیستل. لکه: قلم په لس افغانۍ دی؛ خو پوښتنه نه کوې او پنځه لس افغانۍ ورکوې، په دې کې ایجاب او قبول نشته.

**بیع تقسیم د اخیستل شویو پیسو یا قیمت پر اعتبار:**

درې ډوله ده. ۱ـ مساومه ۲ـ امانت ۳ـ مزایده

**۱ـ مساومه:** عبارت له هغه بیع څخه ده، چې خرڅونکی د جنس اصلي قیمت اخیستونکي ته ونه وایي.

**۲ـ امانت:** عبارت له هغه بیع څخه دی، چې خرڅونکی د جنس اصلي قیمت بیان کړي. امانت په درې ډوله دی.

**الف: مرابحه:** عبارت له هغه بیع څخه دی چې جنس په معینه ګټه وپلورل شي.

**ب: وضیعه:** د جنس خرڅول په ټاکل شوي یا معین تاوان سره.

**ج: تولیه:** د اخیستل شوي جنس خرڅول پرته له ګټې او تاوان څخه. یعنې پر خپل سر.

**۳ـ مزایده:** د جنس خرڅول په هغه مشتري چې په لوړ قیمت یې رانیسي. مزایده د اضافه کولو، زیاتولو په مانا ده. د مزایدې ضد مناقصه ده.

**د بیع تقسیم د قیمت د اداکولو د څرنګوالي په اعتبار:** په څلور ډوله دی.

**۱ـ منجزالبدین:** منجز د تمام شوي په مانا. هغه بیع ده چې جنس په نقدو پیسو پرته له شرط څخه ورکول یا ځای په ځای ورکول.

**۲ـ مؤجل المثمن:** موجل یعنې ځنډ یا تاخیر. د جنس خرڅول په داسې توګه چې پیسې قرض وي.

**۳ـ سلم:** جنس په شرط قرض ورکول یا هغه بیع چې جنس قرض وي او پیسې نقدې وي.

**۴ـ مؤجل البدلین:** د یو شي خرڅول په داسې توګه چې جنس او پیسې یې دواړه قرض وي.

**د اقتصادي نظامونو پرتلنه:**

په نړۍ کې درې ډوله اقتصادي نظامونه دي: ۱ـ کېپېټالیزم ۲ـ سوشیالېزم ۳ـ اسلامېزم

**۱ـ کېپېټالېزم (پانګوال نظام) یا رأس المالیه:** ددې بنسټګر ادم سمېت دی. ادم سمېت په (۱۷۳۳م) کال پیدا او په (۱۷۹۰م) کال مړ شوی دی. ادم سمېت د اقتصاد علم پلار بلل کیږي.

کېپېټالېزم د خصوصي مالکیت طرفداري کوي. هر شی باید خصوصي وي. دا نظام د بازار اقتصاد یا ازاد اقتصاد په نوم هم یادیږي.

**کېپېټالېزم درې اصول لري:**

۱ـ شخصي ملکیت په رسمیت پېژني. دولت باید د خلکو په ملکیت کې کار ونه لري.

۲ـ شخصي ملکیت ګټې مطرح دي. ادم سمېت وایي: د اقتصادي ګټو ستر محرق شخصي ګټې دي.

۳- په اقتصادي چارو کې د دولت مداخله نه کول. دولت باید په اقتصادي چارو کې مداخلت ونه کړي. دولت وظیفه یوازې نظم دی. خلک باید ازاد وي که په حلاله یې گټې که په حرامه.

**په کپیټالېزم نقدونه:**

۱- د شتمنۍ په توزیع کې د توازن نه مراعتول دي. خلک ازاد وي، یو شمېر له پیسو سره لوبې کوي او یو شمېر له لوږې مري.

۲- غلامي په مډرن شکل رامنځته کېدل. په ټولنه کې غلامي رامنځته کوي.

۳- ناوړې استفادې لپاره زمینه برابرول. کپیټالېزم دا کاروه کوي.

۴- د دولت منحصر کېدل د شتمنو خلکو په لاس کې.

۵- د ملت سرنوشت د شتمنو خلکو په لاس کې غورځیږي.

٦- د عقدو رامنځته کېدل.

۷- کمونېزم د کپیټالېزم په ضد رامنځته شو.

۸- طبقاتي نظام رامنځته کول.

**۲- کمونېزم:** کمون په مانا دې شیوع چې په عربي کې شیوعه عام کېدلوته وایي. د کمونېزم بنسټگر کارل مارکس دی. په (۱۸۰۸م) کې زیږېدلی او په (۱۸۸۳م) کال مړ دی. کارل مارکسېزم وایي: کمونېزم په (۱۹۱۷م ) کال د لومړي ځل لپاره لیلن تطبیق کړ چې په روسیه کې ؤ او په نتیجه کې یې په ملیونونو کسان ووژل شول.

**د کمونېزم اصول:**

۱- ټولنیز ملکیت په رسمیت پېژني.

۲- پلان جوړونه.

۳- ټولنیزې گټې.

۴- شتمني په مساوي ډول وېشل.

۵- شخصي ملکیت نه پېژني.

**د کمونېزم ستونزې:**

۱- استعدادونه له منځه ځي.

۲- د خلکو ازادي ختمول. د کمونېزم د ختمولو لامل هم دا ؤ.

۳- د فطرت سره په ټکر کې کېدل. دوی یوه درې سوه نفري کمېټه جوړه او حکومت یې پرمخ بیایي. نور خلک دې گرځي.